مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

فدامحمد نومیر
۲۰۲۶/۰۲/۱۶

# د رحم طمع

لویه ربه ستا په لورې در روان یم
لاس کې نه‌لرمه څه، مفلس حیران یم

ستا د رحم او کرم په طمع در درومم
بې توښې دې اوږد سفر لره پریشان یم

د عمل زیرمه مې و نه کړه ځواني کې
لکه مچ لاسونه موږم اوس پښیمان یم

نصیحت، پند مې د چا نه نغوږه غوږ کې
په میدان د عرصات په غم د ځان یم

شفاعت ستا د حبیب  مې کړې په برخه
ګناهکار، عاصي د دهر و د زمان یم

د نومیر توبه قبوله کړې څښتنه!
د ګناه پیتی په شا درست په زیان یم

۸ - اوګسټ - ۲۰۲۱
متحده ایالات، کلفورنیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ